# د افغانستان د لنډ اوربند په تعقیب

اسیا راپور، ۲۹۸مه ګڼه | **جولای** ۲۰۱۸م ۱۹

له انګلیسي څخه ژباړه


Headquarters

**International Crisis Group**

Avenue Louise 149 • 1050 Brussels, Belgium

Tel: +32 2 502 90 38 • Fax: +32 2 502 50 38

brussels@crisisgroup.org


*Preventing War. Shaping Peace.*

# فهرست


لنډیز ........ i

I. سریزه ........ 1

II. اوربند څنګه وشو؟ ........ 2

III. د ټوپکو پر چوپتیا خوښي ........ 6

IV. د طالبانو له خوا د اوربند له غځوني انکار ........ 9

V. د اوربند پیغامونه ........ 11

VI. د سولې د خبرو پیلونه ........ 14

VII. پایله ........ 20

APPENDICES

A. Map of Afghanistan ........ 22

B. About the International Crisis Group ........ 23

C. Crisis Group Reports and Briefings on Asia since 2015 ........ 24

D. Crisis Group Board of Trustees ........ 25

# غتې موندنې

**نوې خبره څه ده؟** د افغانستان حکومت، نړیوالو ځواکونو او طالب وسله والو ټولو د کوچني اختر په ورځو کې مؤقتي اوربند وکړ. یاد اوربند د افغانستان د اوږدې جګړې په تاریخ کې بې مخینې وو چې له برکته یې د تاو تریخوالي په کچې کې پام وړ کمی راغی او د هیواد په لر او بر کې د خوښیو د شېبو لامل شو چې اکثراً یې حکومتي او طالب ځواکونو ګډه خوشالي کوله.

**د دې اهمیت په څه کې دی؟** اوربند وښودله چې د دواړو لوریو مشران پر خپلو ځواکونو پام-وړ واک لري، او دا ځکه مهم دی چې مخکې هیڅ لوري هم د مقابل لوري پر انسجام باور نه درلود. جشنونو سولې ته د ځینو جنګیالیو په ګډون د افغانانو شدیده لېوالتیا وښوده. دغه دواړه عوامل د سولې د راتلونکي بهیر له پاره ښه زېری دی.

**څه باید** وشي؟ واشنګټن باید یو باصلاحیته استاځی وټاکي چې له طالبانو سره خبرې وکړي او دا روښانه کړي چې که چېرې دغه تحریک او افغان حکومت د سولې یوه داسې هوکړه لاسلیک کړي چې افغاني ټولنې ته په پراخه کچه د منلو وړ وي، امریکایي ځواکونه له افغانستانه وتلی شي. طالب مشران باید له خپل هغه دریځ نه تېر شي چې وایي له افغان حکومت سره خبرې نه کوي او په خبرو کې کابل نه راګډوي.

# لنډیز

د کوچني اختر په درې ورځې رُخصتۍ کې افغانستان په خپلې لسیزو-اوږدې او له تېرې ډېرې خونړۍ شخړې کې د جګړې د عُمده لوریو له خوا د یوه تاریخي اوربند شاهد وو. د تاو تریخوالي په کچې کې غوڅ کمښت له جګړې ستړو افغانانو ته د عادي ژوند یو لنډ احساس ورکړ او په ټول هیواد کې د خوښۍ د جشنونو لامل شو. اوربند ثابته کړه چې سولې ته د کور د ننه شدیده تقاضا موجوده ده. همداراز یې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو دواړو په صف کې د مراتبو د سلسلې انسجام څرګند کړ چې د ډلګیو مشرانو یې، که څه هم چې د جګړې د بندولو حکم ور ته حیرانوونکی وو، بشپړ اطاعت وکړ. ټولې غاړې باید له دغه فُرصت نه د سولې په لور د حرکت کولو له پاره ګټه واخلي. ولسمشر اشرف غني لا وړاندې له طالبانو سره د غیرمشروطو خبرو وړاندیز کړی. د متحده ایالاتو حکومت، چې د راپورونو له مخې اوس دې ته چمتو دی چې نېغ په نېغه د وسله والو مخالفینو له مشرانو سره خبرې وکړي، باید یوه هیئت ته د دغه کار صلاحیت ورکړي او د ډاګیز اعلان په ګډون دا روښانه کړي چې که چېرې د وسله والو مخالفینو او افغان حکومت له خوا د سولې یوه داسې هوکړه لاسلیک شي چې افغاني ټولنې ته په پراخه توګه د منلو وړ وي، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو پر وتنې هم بحث کېدی شي. طالبان هم باید د ولسمشر غني له حکومت سره د سولې خبرو ته ننوځي .

له دوو استثناوو پرته چې د بریدونو پړه د اسلامي دولت د افغانستان څانګې کوچنۍ ډلې پر غاړې واخیسته، دغه اختریز اوربند د وینې تویونې په کچې کې د پام وړ کمي لامل شو. مګر دغو بریدونو پر جشنونو لېز اغېز وکړ. حکومتي او طالب جنګیالیو یوه بل ته غېږې ورکړې، له یوه بل سره یې ځان-انځورونه واخیستل، ګډې سندرې او اتڼونه یې وکړل، او له یوه بل سره یې ګلان او ډالۍ تبادله کړې. د دوی په پخلاینې، که څه هم لنډه وه، اکثراً دوی د بیرغ په لاس جوپو، جوپو ملکي وګړو له هرکلي سره مخ شول. لسګونه زره افغانان د خپلو ملګرو او خپلوانو د لیدنې په پار د جګړې له کرښو واوښتل. دغه خوښۍ په شمال او نورو هغو ځایونو کې چې د طالبانو وېره پکې تر نورو ځایونو ډېره ده، محدودې وې. مګر د هیواد زیاترو برخو، په ځانګړې توګه هغو سیمو چې تر ټولو بد تاوتریخوالي ځپلي، د خوښۍ او هیله منتیا هغه شیبې ولیدې چې له کلونو راهیسې یې نه پېژندې .

د ارامۍ په ترڅ کې د دواړو غاړو انسجام، په ځانګړې توګه د داسې یوه وسله وال مخالفت په مینځ کې چې اکثراً وېشل شوې ښودل کیږي، د سولې د راتلونکو خبرو اترو له پاره ښه نښه ده .

د ولسمشر غني له خوا د اوربند د غځونې له وړاندیز سره، سره طالبانو له اختره وروسته جنګ بیا پیل کړ. مګر په دغه اوربند کې، که څه هم چې عمر یې لنډ وو، د سولې د راتلونکو هڅو له پاره ګټور درس نغښتی وو. د اوربند تودې لمانځنې په ډاګه کړه چې زیاتره افغانانان د جګړې پای ته څومره ژوره لېوالتیا لري. د حکومت او طالبانو پلي ځواکونه او قوماندانان ولیدل شول چې د جګړې د مؤقتي درېدنې له کبله یې خوښي څرګندوله. له یوه بل سره د دوی ګډوالي تر یوه بریده د هغه نظر له ناسمۍ پرده پورته کړه چې وایي جګړه د نه ماتیدونکي فکري وېش له کبله ده. د طالبانو په مینځ کې د اوربند په اړه بحثونه په خپله د دغه تحریک د ننه سولې او جوړجاړي ته د هڅونې څرګندویې وې .

له ټولو مهمه دا چې دغه اوربند دا وښودله چې د دواړو لوریو مشران خپل حکم تعمیلولی شي. که څه هم چې هېڅ لوري هم خپل ځواکونه د اوربند له پاره نه وو چمتو کړي، دواړو غاړو- افغان حکومت او د امریکا متحده ایالاتو او نورو نړیوالو ځواکونو له یوه لوري، او طالبانو له بل لوري- د حیرانوونکي نظم څرګندونه وکړه. دواړو لوریو له دې ډډه وکړه چې له زیانمنونکو شېبو نه په ناوړه ګټې اخیستنې ناځاپي

بریدونه وکړي. طبعاً د اختر درې-ورځنی اوربند له هغه سیاسي روغې جوړې څخه ډېر واټن لري چې له دُښمنانو سره پکې ستر جوړجاړي شوي وي. مګر سره له دې هم د دغې مؤقتي ارامی په ترڅ کې د دواړو لوريو انسجام، په ځانګړي توګه د داسي يوه وسله وال مخالفت په مينځ کې چې اکثراً وېشل شوی ښودل کيږي، د سولې د راتلونکو خبرو اترو له پاره ښه نښنه ده .

د دغسې خبرو پر لور پرمختګ له ډېرې مودې راهيسې په ټپه درېدلی. پرله پسې افغان حکومتونو د وسله والو مخالفينو له مشرانو سره خبرو ته خپل چمتووالی ښودلی. په دغو نږدې وختونو کې ولسمشر اشرف غني د دغسې خبرو بې شرطه وړانديز وکړ کوم چې دې ته په پام سره چې د ده ځينو لوړپوړو چارواکو طالبان د ترهګرو د يوه پاشلي ټولګي په توګه ياد کړل، يو زړور ګام وو. مګر طالبانو ټل د امريکا له متحده ايالاتو سره، چې دوی يې خپل اصلي دُښمن بولي، پر مستقيمو خبرو ټينګار کړی. په تېر وخت کې متحده ايالاتو دا خبره ردوله چې دوی د شخړې غاړه ده او په دې باور وو چې افغانان بايد خپل اختلافات په خپله هوار کړي او له افغانستان نه يې د امريکايي پوځيانو د وتلو پر قضيې بحث کولو ته غاړه نه کېښوده. مګر داسې برېښي چې په دغه دريځ کې يې بدلون راغلی. د امريکايي چارواکو له بيانيو، رسنيزو راپورونو او د کرکېچ د ډلې له خپلو څېړنو داسې ښکاري چې واشنګټن دې ته چمتو دی چې له طالبانو سره د نيغ په نيغه خبرو کولو دغه مهم او مطلوب ګام واخلي او د امريکايي پوځيانو وتل د خبرو اترو په بحث کې شامل کړي. ټولې غاړې بايد له دغه اختريز اوربند څخه رامينځ ته شوي خوځښت او دغو وروستيو پرمختياوو څخه ګټه واخلي :

- متحده ايالات بايد د طالبانو له مشرتابه سره يوه رسمي مجرا پرانيزي. واشنګټن بايد يوه هيئت ته د دې صلاحيت ورکړي چې په دوحې، او همداراز کابل او سيمه ايزو مرکزونو کې د طالبانو د سياسي دفتر له سيالو لوريو سره نيغ په نيغه وغږيږي. متحده ايالات بايد همدارنګه د امريکايي پوځيانو او نورو نړيوالو ځواکونو وتل په څرګند ډول د خبرو پر مېز کيږدي او دا خبره ډاګيزه کړي. مګر دا هم بايد روښانه کړي چې د دغسې وتنې طبيعت او مهالوېش بايد د طالبانو او افغان حکومت تر مينځ د يوې داسې روغې جوړې برخه، يا پرې مشروط، وي چې افغان ولس ته په پراخې کچې د منلو وړ وي .
- د طالبانو مشرتابه بايد له افغان حکومت سره خبرې اترې ومني. که اوربند د طالبانو انسجام وښود، دا يې هم وښودله چې ولسمشر غني د هغو افغان ځواکونو واک لري د چا پر وړاندې چې طالبان خپل ورځنی جنګ پر مخ وړي او د خپلو امريکايي ملګرو په پرتله خورا ډېره مرګ ژوبله ور اوړي. د طالبانو مشران بايد دا هم ومني چې د نړيوالو ځواکونو وتل د سولې پر يوه داسې پراخ تړون مشروط دي چې ممکن په ملي او سيمه ايزه کچه د واک-شريکولو طرحې، د امنيتي سکتور اصلاح او د افغانستان د اساسي قانون د بياليکنې بهير هم پکې شامل وي .
- ټولې غاړې کېدی شي چې، په بالقوه توګه، د نورو اوربندونو، د بنديانو د تبادلې يا د کابل او وسله والو مخالفينو تر مينځ د طالبانو له واک لاندې سيمو کې د بنسټيزو خدمتونو د وړاندې کولو په اړه همغږۍ کې د لا روښتيا په ګډون د باور-جوړونې ګامونه واخلي. ټولې غاړې بايد هغه سنجيده لهجه وساتي چې د اوربند په ترڅ کې يې په خپلو خبرو کې خپله کړې وه .

اختریز اوربند د جنګیالیو په ګډون جګړه ځپلیو افغانانو ته هغه څه وښودل چې ښايي سوله يې له ځان سره راوړي. دا اوربند د خوځښت له نورو ښښو سره په خوا کې رامينځ ته شو چې لومړۍ ښښه يې د ولسمشر غني له خوا له طالبانو سره د بې شرطه خبرو وړانديز او وروسته هغه ښښې وې چې واشنګټن دې ته چمتو دی چې له طالب مشرانو سره نېغ په نېغه وغږيږي او د پوځيانو د وتلو موضوع په بحث کې شامله کړي. د متحده ایالاتو او طالبانو تر مينځ مستقيمې خبرې کوم کيميا-بوټی نه دی چې هر څه به سم کړي. کېدی شي طالبان بيا هم له کابل سره خبرو ته ننوتل، لږ تر لږه په لومړي سر کې، رد کړي، او ان که بين الافغاني خبرو ته غاړه کيږدي هم، دغه ډول خبرې به د داسې روغې جوړې پر لور د يوې اوږدې او ستونزمنې لارې يوازې پيل وي چې ټولو غټو افغاني ډلو او په لويه کې افغان ولس ته د منلو وړ وي. مګر سره له دې هم د متحده ایالاتو له خوا له طالبانو سره مستقيمې خبرې د دغسې خبرو اترو او د سولې له اوږدې مودې راهيسې ځنډيدلي بهير د پيلونې له پاره تر ټولو غوره شرط دی .

**کابل/برسلز، ۱۹ جولای ۲۰۱۸م**

# د افغانستان د لنډ اوربند په تعقیب

## I. سریزه

د افغانستان جګړه چې افغان دولتي ځواکونه او د متحده ایالاتو تر مشرۍ لاندې نړیوال ائتلاف پکې له ورځ تر بلې ځواکمنیدونکي وسله وال مخالفت سره مخامخ دي، په وروستیو کلونو کې په پرله پسې توګه شدیده شوې[1]. د ۲۰۱۸م کال نیمايي د تاوتریخوالي نویو څوکو ته ورسېد چې طالبان پکې د هیواد په اوږدو کې پر خوا او شا ۴۴٪ ولسوالیو واک، اغېز یا یې پر سر سیالي لري او بې سارې شمېر بریدونه تر سره کوي[2]. له دې سره، سره په جون میاشتې کې د کوچني اختر په رخصتیو کې دواړو غاړو درې ورځې خپلو اړوندو ځواکونو ته د ارام-سی امر وکړ. دغه اوربند چې په ۲۰۰۱م کال کې له کابل څخه د طالبانو له لرې کولو راهیسې بې سارې وو، د وینې تویوني په کچې کې د پام-وړ کمښت شاهد وو او په ټول هیواد کې د لمانځنو او جشنونو لامل شو. دغه اوربند یوازې د لږ وخت دمه ثابته شوه ځکه چې جګړه دستي بېرته پیل شوه. په هر صورت، یاد اوربند وتوانېد چې د افغانستان خونړۍ جګړې ته د سوله ایز هواري د موندني هڅو ته تازه ساه ور وبخښي.

دا راپور په دې اړه غږیږي چې یاد اوربند څرنګه وشو، دواړه لوري څه شي وهڅول چې برخه پکې واخلي او طالبانو یې د ولسمشر اشرف غني له خوا له یوې-اړخیزې غځوني سره، سره ولې له غځوني انکار وکړ. همداراز له اوربند څخه د هغو هڅو له پاره درسونه راباسي چې دواړه لوري د سولې خبرو ته وهڅوي او هغه ګامونه روښانه کوي چې دوی او په ځانګړې توګه د متحده ایالاتو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ اداره یې د دغه رامینځ ته شوي خوځښت په تعقیب اخیستی شي. دا راپور د کړکېچ د ډلې د هغو مشاهداتو او معلوماتو پر اساس لیکل شوی چې د اختر په رُخصتی کې یې د کابل د لویدیځ او جنوب درې ولایتونو ته له سفرونو او د غني د حکومت د لوړپوړو غړو په ګډون یې له افغان دولتي چارواکو، په ښاري او کلیوالي سیمو کې مېشتو ملکیانو او د مخالفینو له مینځه ګڼ شمېر سرچینو څخه تر لاسه کړي.

[1] د افغانستان د وسله وال مخالفت په اړه د کړکېچ د ډلې د مخکېني تحلیل له پاره وګورئ: اسیا راپور، ۲۵۶ ګڼه: Afghanistan’s Insurgency after the Transition (د انتقال له بهیر وروسته د افغانستان وسله وال مخالفت، ۱۲ مۍ ۲۰۱۴م)؛ ۲۳۶ ګڼه راپور: Afghanistan: The Long, Hard Road to the 2014 Transition (افغانستان: د انتقال د بهیر پر لور اوږده او ستونزمنه لاره، ۸ اکتوبر ۲۰۱۲م)؛ او ۲۰۷ ګڼه راپور: The Insurgency in Afghanistan’s Heartland (وسله وال مخالفت د افغانستان په زړه کې، ۲۷ جون ۲۰۱۱م).

[2] برهان عثمان، "The Cost of Escalating Violence in Afghanistan" (د افغانستان د سختیدونکي تاوتریخوالي قیمت)، د کړکېچ د ډلې تبصره، ۷ فبرورۍ ۲۰۱۸م. د SIGAR (د افغانستان د بیاجوړونې له پاره ځانګړي سرمفتش) له خوا خپاره شوي د امریکایي پوځ اټکلونه ښيي چې پر ولسوالیو د مخالفینو د واک، اغېز یا یې پر سر د سیالۍ کولو وړتیا کچه د ۲۰۱۵م کال په نومبر کې ۲۸٪ څخه د ۲۰۱۷م کال په اکتوبر کې ۴۴٪ ته لوړه شوې. نور شنونکي دغه کچه نوره هم لوړه ښيي. "د سیګار له خوا د متحده ایالاتو کانګرس ته د ۲۰۱۸م کال د جنورۍ د درې-میاشتني راپور ضمیمه"، سیګار، ۳۰ جنوري ۲۰۱۸م.

## II. اوربند څنګه وشو؟

د ۲۰۱۸م کال له پیل نه د جګړو د تشدید تر څنګ د شخړې د دواړو لوریو له خوا د سولې په اړه ضمني اشارو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی[3]. د فبروري په وروستیو کې ولسمشر اشرف غني ناڅاپه له طالبانو سره د سولې د خبرو وړاندیز وکړ. له مهمو بهرنیو شریکانو سره د یوه کانفرانس په ترڅ کې نوموړي یوه ګډه اعلامیه تائید کړه چې پکې ویل شوي وو چې دوی "ټول مني چې د افغان حکومت او طالبانو تر مینځ- له هر ډول شرط پرته او د تاوتریخوالي له ګواښونو پرته- مستقیمې خبرې د افغانستان د خلکو د روان ناورین د پای ته رسولو تر ټولو غوره لاره ده"[4]. د غني د فبروری اعلامیه د خبرو پر لور یوه مهمه کړکۍ وه. دغه اعلامیه په دې اړه د عطف نقطه وه: د ولسمشر غني د اداري لوړپوړو څېرو تر دې د مخه میاشتو کې استدلال کاوو چې د مخالفینو مشران دومره سخت-دریځه او طالبان دومره ویشلي دي چې دغه ډول اقدام یې په اړه ګټه نه کوي[5].

طالبانو په خپل وار د ۲۰۱۸م په فبروری میاشتې کې درې اعلامیې خپرې کړي چې د سولې د خبرو غوښتنه یې کوله. په دې کې یې یو لیک مستقیماً د امریکا د خلکو په نوم هم خپور کړی[6]. په هماغې میاشتې کې د ولسمشر غني د سولې د خبرو وړاندیز ته د دغه تحریک غبرګون هم د دوی په دریځ کې د یوه پټ بدلون ښکارندوی دی. په تېره کې طالبانو د افغان حکومت له خوا د خبرو بلنه چټکه ردوله. تل یې پر خپلې دې غوښتنې ټینګار کاوو چې یوازې له امریکا سره، چې خپل اصلي حریف یې بولي، خبرې کوي، نه له حکومت سره[7]. مګر دا وار د مخالفینو مشران غلي پاتې شول. که څه هم چې طالب چارواکو په شخصي ناستو کې دغه وړاندیز د "کومه نوې خبره نه شته" په ویلو سره رد کړی، یاد تحریک په

[3] د بېلګې په توګه، طالبانو په فبروری میاشتې کې درې اعلامیې خپرې کړي چې د سولې لور ته یې بلنه ورکوله. الامارة، فبروري، ۲۰۱۸م.

[4] اعلامیه: په افغانستان کې د سولې او امنیتي همغږۍ له پاره د کابل بهیر، کابل، ۲۸ فبروري ۲۰۱۸م. د تاوتریخوالي له ګواښونو پرته عبارت د اعلامیې د تسوید په وروستیو مرحلو کې ور اچول شوی وو. سره له دې چې د افغانستان د مهمو مرستندویانو د ډلې (International Contact Group for Afghanistan) له خوا خپرې شوې اعلامیې کې چې پر طالبانو یې د افغانستان له حکومت سره د بې ځنډه، بې شرطه او د تاوتریخوالي له ګواښونو پرته د مخامخ خبرو پیلولو غږ کړی وو، هم ورته عبارت تکرار شوی، د دغه عبارت معنیٰ هېڅکله هم روښانه نه شوه. "Chair's summary"، International Contact Group، باکو، ۲۸ جون ۲۰۱۸م.

[5] له افغان چارواکو سره د کرکیچ ډلې مرکې، کابل، فبروري ۲۰۱۸م. طالبانو ته د خبرو مخکېنیو بلنو کې ځینې محدودیتونه موجود وو، د بېلګې په توګه، چې له طالبانو پکې غوښتل کېدل چې باید د ۲۰۰۴م کال اساسي قانون ومني. Steve Coll, Directorate S: The CIA and America's Secret Wars in Afghanistan and Pakistan (New York, 2018) (د سټيف کول کتاب، ایس ریاست: په افغانستان او پاکستان کې د سي آی اې او امریکا پټې جګړې، نیویارک، ۲۰۱۸م، ۴۷۱، ۵۴۵ مخونه).

[6] د امریکا ولس ته د اسلامي امارت لیک، الاماره، ۱۴ فبروري ۲۰۱۸م؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د وروستیو څرګندو په اړه د اسلامي امارت د سیاسي دفتر اعلامیه، الاماره، ۲۶ فبروري ۲۰۱۸م؛ د افغانستان د چارو متخصص برنیټ روبین (An open letter to the Taliban", The New Yorker, 27 February 2018 / طالبانو ته پرانستی لیک) ته د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد ځواب.

[7] وګورئ: برهان عثمان، "The U.S. needs to talk to the Taliban in Afghanistan" (امریکا باید په افغانستان کې له طالبانو سره خبرې وکړي)، نیویارک ټایمز، ۱۹ مارچ ۲۰۱۸م. د سولې د بهیر له پاره وروستۍ غټه هڅه په ۲۰۱۶م کې ناکامه شوه، هغه وخت چې طالبانو د څلوراړخیزې همغږۍ د ډلې په مینځګړتوب کېدونکې خبرې رد کړې. په یادې ډلې کې افغانستان، چین، پاکستان او متحده ایالات شامل وو.

ښکاره د غني د دغه وړاندیز له ردولو لاس نیولی[8]. کله چې ولسمشر د ازبکستان په پلازمېنې تاشکند کې خپل وړاندیز تکرار کړ، ډېرو کتونکو یې په اړه د طالبانو روانه چوپتیا د دې د نښې په توګه تعبیر کړه چې یاد تحریک په خپلو مینځونو کې په دې خبرې کوي چې مثبت ځواب ورکړي که نه[9].

د راپورونو پر اساس په مۍ میاشتې کې غني په هیواد کې د متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو له قومندان، جنرال جان نیکولسن، سره پر لا مهمې نښې، یعنې د را روان کوچني اختر په رخصتیو کې د یواړخیز اوربند پر موضوع، وغږېد[10]. ځینې افغان چارواکو ظاهراً ملاحظې لرلې او ویل یې چې د امنیتي عواقبو د ارزونې له پاره پوره وخت نه شته[11]. مګر د جون په ۷مه نېټه، که څه هم چې ځینو افغان پوځي قوماندانانو ته حیرانوونکې وو، غني د خوښیو په موسم کې د طالبانو پر ضد په بریدي عملیاتو کې اته ورځې بندیز اعلان کړ[12]. امریکایي پوځ دغه اوربند ته د درناوي ژمنه وکړه، مګر د افغانستان په ختیځ کې یې د اسلامي دولت ډلې کوچنۍ څانګې پر ضد خپلو عملیاتو ته ادامه ورکړه[13]. لویدیزو او سیمه ایزو دیپلوماتانو د غني د دغه نوښت هرکلی وکړ، کوم چې د راپورونو له مخې د کابل او د هغه د بهرنیو ملګرو تر مینځ د جګړې د پای ته رسولو په اړه د میاشتو، میاشتو خبرو اترو څرګندوی وو[14]. دې کار پر طالب مشرتابه، چې د غني له څرګندونو سره بې چمتووالي مخ شول، نور فشار هم راوړ چې ځواب ووایي[15].

طالبانو ته د هغوی د خپل اوربند د اعلان خبره بیخي ناآشنا نه وه. د طالبانو د مینځنۍ کچې سیاسي سلاکارانو تېر ژمی دا خبره خپره کړې وه چې د دوی له لوري یواړخیز حرکت کولی شي چې سولې ته د دوی لېوالتیا څرګنده کړي. هغه وخت د وسله والو مخالفینو مشرانو پرېکړه وکړه چې اوربند به له خطره ډېر ډک ځکه وي چې په ځانګړې توګه به داسې وانګېرل شي چې دوی د امریکا تر پوځي فشار لاندې راغلي او یا به د امریکایي چارواکو له خوا داسې ښودل کیږي چې د افغانستان د شرایطو د تلې پله یې په خپلې ګټې درنه کړې[16].

د غني نوښت طالبان له لا بد دوه ګوني وضعیت سره مخ کړل. د ایران، چین، او روسیې او همدارا ز لویدیزو قدرتونو په ګډون حکومتونو د ولسمشر غني د اوربند وړاندیز وستایه او ځینو یې طالبان د ورته

[8] له لوړپوړو طالب غړو سره د کرکېچ ډلې مرکې، مارچ ۲۰۱۸م.

[9] روډ نورډلینډ او مجیب مشعل، "Taliban's rare silence on talks charges up a new peace conference" (د خبرو په اړه د طالبانو نادره چوپتیا د سولې د یوه نوي کانفرانس انګېزه)، نیویارک ټایمز، ۲۷ مارچ ۲۰۱۸م. دې ته په پام سره طالبانو پر خپل رسمي ویبسایټ لیکنې خپرې کړې چې پکې ویل شوي وو چې دوی یاد وړاندیز ته ځواب نه ورکوي او پر خپلې هغې خبرې ولاړ دي چې د افغانستان له حکومت سره خبرې و نه کړي. "د طالبانو اصلي دُښمنان څوک دي؟"، الاماره، ۱۳ مارچ ۲۰۱۸م.

[10] له لوړپوړو افغان او لویدیزو چارواکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون او جولای ۲۰۱۸م.

[11] له افغان چارواکو او لویدیزو دیپلوماتانو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[12] پورتنۍ سرچینه.

[13] د عراق او شام د اسلامي دولت (داعش) ځایي څانګه د اسلامي دولت د خراسان ولایت په نوم پېژندل کیږي. له مرکزي داعش سره د دوی د عملیاتي اړیکو د کچې په اړه راپورونه مختلف دي، مګر د اسانۍ له پاره په دغې څېړنې کې یاده څانګه د داعش په نوم یادیږي.

[14] له لوړپوړو افغان او لویدیزو چارواکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، فبروري ۲۰۱۸م.

[15] له طالب چارواکو او لویدیزو دیپلوماتانو سره د کرکېچ ډلې مرکې، ۲۰۱۸م.

[16] له طالب چارواکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

غبرګون ښودلو ته وهڅول؛ افغانانو په خپله هم په پراخه کچه د حکومت د اوربند هرکلی وکړ[17]. سربېره پر دې، د غني له خوا شوی اقدام بیخي پر سم وخت وو: ځکه چې د هیواد د تر ټولو مهمې مذهبي رُخصتۍ، کوچني اختر، سره متصادف وو. دا داسې وخت دی چې د رمضان له روژې وروسته له مسلمانانو غوښتل کیږي چې خپلې شخړې هوارې کړي او په همدې وخت کې پخوا طالبانو هم د خپلو بریدونو کچه راټیټوله. د طالبانو یوې کوچنۍ عملکرا ډلې د مخالفینو مشرتابه دې ته هڅولی وو چې مثبت ځواب ورکړي. د راپورونو پر اساس د دغې کوچنۍ ډلې دا دلیل په داخلي بحثونو کې وارد بلل شوی چې تحریک باید خپل دا انځور بدل کړي چې ګواکې یوازې "د جګړې ماشین" دی[18]. دوی دا هم ویلي وو چې بریالی اوربند کولی شي د دوی په کته د تحریک انسجام او د خپلو مشرانو دا وړتیا ځرګنده کړي چې اوربند نافذولی شي[19].

ویاړ یې بیا نورو واخیست. په ځانګړي توګه پاکستاني چاروکو په پرله پسې توګه دا ویل چې دوی طالبان اوربند ته وهڅول. د متحده ایالاتو دیپلوماتانو وویل چې دوی پاکستان د دغسې نقش لوبولو ته هڅولی وو[20]. د ځینو راپورونو پر اساس پاکستان دې ته غاړه ایښې وه چې د امریکا له خوا په یوه هوایي برید کې د ملا فضل الله د وژلو په بدل کې پر طالبانو فشار راوړي[21]. لوړپوړو افغان چارواکو په پیل کې د طالبانو دا ادعا ومنله، مګر وروسته یې وویل چې د طالبانو اعلامیه په خپله د مخالفینو د داخلي انګېزې له برکته وه[22]. هغه منځګړي چې د افغان طالبانو له داخلي بحثونو سره بلد دي، هم وايي چې د خصمانه عملیاتو د درولو پرېکړې له پاکستاني فشار سره هېڅ اړیکه نه لرله[23]. په حقیقت کې هغه نظرونه چې ګواکې پاکستاني اغېز په دې برخې کې پرېکنده وو، ښکاري چې طالب مشرتابه نه دي منلي ځکه چې دوی د هغو انګېرنو د دفع کولو هڅه وکړه چې ګوندي دوی د اسلام آباد تر اغېز لاندې دي[24].

همداراز د لومړي سر ګومانونو پر خلاف، طالب سرچینې وايي چې له یادې پرېکړې مخکې له خپلو قوماندانانو یا مهمو نظامیانو سره پراخه مشورې نه وې شوې[25]. داخلي بحثونه د راپورونو له مخې د مشرتابه تر کړیو محدود وو چې په دې کې هغه طالب ځېرې هم راځي چې د سیاسي پرېکړو په اړه مهم نظرونه ورکوي. طالب مشرتابه بیا د رسنیزو اړیکو د لوړپوړو مسؤلینو پر مټ چټک اقدام وکړ او د جون په ۹مه یې د خپل اوربند په اړه اعلامیه خپره کړه. د طالبانو اوربند د افغان ځواکونو پر ضد عملیات

[17] "Russia urges Taliban movement to join truce declared by Afghan president" (روسیې د طالبانو له تحریک نه په ټینګه غوښتنه وکړه چې د افغان ولسمشر له خوا اعلان شوي اوربند ته ور ګډ شي)، TASS، ۸ جون ۲۰۱۸م؛ ایران د افغانستان د اوربند ملاتړ وکړ، ایرنا، ۸ جون ۲۰۱۸م؛ او China backs Afghan ceasefire (چین د افغانستان د اوربند ملاتړ وکړ)، PTI، ۸ جون ۲۰۱۸م. د کړکېچ ډلې مرکې او مشاهدې، جون ۲۰۱۸م.

[18] د کړکېچ ډلې مرکې او مشاهدې، ۲۰۱۸م.

[19] پورتنۍ سرچینه.

[20] انور اقبال، "US, Pakistan working to jump-start Afghan peace process" (امریکا او پاکستان د سولې د بهیر د پیلولو له پاره کار کوي)، ډان، ۹ جون ۲۰۱۸م.

[21] د فضل الله مرګ د اسلام آباد له پاره غټه بریا وه. که څه هم چې پاکستانی پوځ او استخبارات په پټه د افغان طالبانو ملاتړ کوي، په خپله له څه باندې یوې لسیزې راهیسې له پاکستاني طالبانو سره په جګړه لګیا دي.

[22] له لوړپوړو افغان چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، جولای ۲۰۱۸م؛ لویدیز دیپلومات، جون ۲۰۱۸م.

[23] له طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[24] له هغو طالب غاړو سره د کړکېچ ډلې مرکې چې د پرېکړې کولو له بهیر څخه خبر وو، جون ۲۰۱۸م.

[25] له افغان حکومت، لویدیزو او طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، کابل، جون ۲۰۱۸م.

درې ورځې وځنډول. له دغې وقفې څخه بهرني ځواکونه مستثنیٰ وو، مګر پر نړیوالو ځواکونو بریدونه خورا کم وو، داسې چې طالبانو د جون په ۱۵مه نېټه د کابل په شمال کې په هیواد کې د امریکا په تر ټولو لوییې اډې، باګرام هوایي ډګر، د توغندویي برید په بڼه د یوه کوچني سمبولیک برید ادعا وکړه[26].
د هیواد په اوږدو کې د راپورونو له مخې د تحریک ګڼ لوړپوړي غړي او قومندانان د دغه اعلان په اورېدلو هک پک شول[27]. یو څه قومندانان د اوربند یا یې د اعلان د طرز له کبله وځورېدل[28]. مګر د دوی اندېښنې، چې لامل یې ښایي یا د دغو قومندانانو دا باور وو چې د دوی لاس بر وو او جوړجاړي ته یې لږه اړتیا وه، یا دا چې دوی د دښمن په نیت بې باوره وو، ډېر ژر د تحریک د پراخې اجماع له خوا رفع شوې. کړکېچ ډلې د حقاني شبکې (یوه ډله ده چې د طالبانو د ځینو تر ټولو خونړیو بریدونو مسؤولیت پر غاړې لري) د قومندانانو په ګډون د یو شمېر مطرحو نظامي څېرو غږیزو پیغامونو ته لاسرسی درلود چې داسې ترې ښکاري چې دوی د یادې اعلامیې په اړه یوازې له اعلان نه وروسته خبر شول[29]. مګر ان اکثریت هغو هم ملاتړ وښود چې په دغه اعلان هک پک شوي وو[30]. دا چې طالب مشرتابه اوربند د یوه داسې اقدام په بڼه وکړ چې د دیني رُخصتۍ لمانځنو ته اجازه ورکړي، ښکاري چې دې کار ښکاره مخالفت حداقل کچې ته راټیټ کړی وي.

[26] د ذبیح الله مجاهد د ټویټر تبصره (@ZabihullaM4)، ۱۵ جون ۲۰۱۸م.
[27] له افغان حکومت، لویدیزو او طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، کابل، جون ۲۰۱۸م.
[28] له دوو طالب قومندانانو سره د کړکېچ ډلې مرکه، جون ۲۰۱۸م.
[29] غږیزې خبرې چې د کړکېچ ډلې له خوا اورېدل شوې، جون ۲۰۱۸م.
[30] هغو طالب قومندانانو چې شخصاً خفه شوي وو، د طالبانو دغه مشهور شعار ته اشاره کوله چې "د قائد د پرېکړې تر شا همېشه یو حکمت وي" او د جنګ د درولو امر یې ومانه. له طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

## III. د ټوپکو پر چوپتیا خوښي

د کوچني اختر درې ورځې رُخصتي تل په جګړې کې د کمښت شاهده وي ځکه چې جنګيالي له خپلو کورنيو سره د وخت تېرولو په موخه د جګړې له ډګره کور ته ستنيږي. مګر د جګړې په کچې کې سږنی کمښت بې ساري وو: د ځینو څارونکو په اند امنيتي پېښې د تېرو اختري رُخصتيو په پرتله په درېوو کې دوه برخې کمې شوې وې[31]. د امنيتي پېښو ګراف د طالبانو د اوربند په درې ورځو کې، يعنې د جون د ۱۴مې له ماښام نه د ۱۷مې تر لمرلويده پورې ډېر په ځوړ وو[32]. په یوې عادي جمعه-ګۍ رُخصتۍ کې په هيواد کې افغانان له بم چوني نيولې تر وژنو او مخامخ جګړو پورې له ۱۰۰ زياتو امنيتي پېښو سره مخ کيږي. د اختر په جمعه-ګۍ رُخصتۍ کې دا پېښې د راپورونو له مخې په یويز عدد کې وې[33].

سربېره پر دې، د دغې وينې تويوني مرتکبين هم مختلف وو. په یوې متوسطې ورځې کې د طالبانو او حکومت-پلوو ځواکونو تر منځ جګړه په افغانستان کې د تاوتريخوالي ډېکو پېښو څه باندې ۹۵٪ جوړوي. مګر د اوربند په ترڅ کې طالبانو په دغو پېښو کې چندان ونډه وا نه خيسته. جنايي ډلې او حکومت-پلوه ملېشې د شخصي شخړو پر سر سره ونښتې. ملکي وګړي د رمضان د پای خوښيو په استثنايي ډزونو کې ټپيان شول. داسې ښکاري چې ځايي اسلامي دولت د تر ټولو سختو سرغړونو مرتکب شوی وي. د جون په ۱۶مه او ۱۷مه ځان-مرګو بريدګرو د اوربند په خوښۍ کې جوړو شويو غونډو بريد وکړ چې لږ تر لږه ۴۸ تنو پکې ژوند له لاسه ورکړ. دغو بريدونو طالبان او افغان امنيتي ځواکونه ووژل او د دې پخلی يې وکړ چې داعش دواړو ته د دُښمن په سترګه ګوري[34].

مګر دغو بريدونو د هيواد په لارو او کوڅو کې د خوښيو مخه ډب نه شوه کړی. په ډېرو سيمو کې په دغو خوښيو کې طالب جنګيالي او افغان پوځيان لګيا وو چې له یوه بل سره يې چايونه څښل، ټوکې ټکالې يې سره کولې او د وطنپالنې د سندرو په زمزمه کولو سره يې اتڼونه او دوديزې نڅاګانې کولې. د خلکو له شور او ځوړه ډکې ګڼې ګوڼې د پخلاينې دا لنډې او ژر تېرېدونکې صحنې وستايلې. هغه کورنۍ چې د اوږدې جګړې له کبله سره جلا شوې وې، بېرته سره يو ځای شوې. ښځو او کوچنيانو په دغو جشنونو کې ګډون وکړ، په داسې حال کې چې په مخکېنيو اختريزو رُخصتيو کې به يې د چاودنو له وېرې له ګڼې ګوڼې ډډه کوله. په دغسې شرايطو کې چې خلکو هڅه کوله چې د جګړې غاړو ته وښيي چې دوی څومره د سولې تږي دي، په اختريزو خوښيو کې دغه ګډون د مدني مبارزې يوه بڼه وه. هغه خلک هم راووتل چې د دغو مبارزو هيڅ سابقه يې نه لرله.

دغسې صحنې تر ښارونو او ښارګوټو پورې محدودې نه وې. ان د لومړۍ کرښې هغه سيمې چې له يوه بل سره يې دوی پر سر سيالي کوي او چې د افغان ځواکونو او مخالفينو تر منځ روانو جګړو له کبله د

---

[31] له لويديزو امنيتي شنونکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[32] يوه امنيتي شنونکي د وينې تويېدنې دا وقفه د "واقعاً معجزاتي" په نوم ياده کړه. له لويديز شنونکي سره د کرکېچ ډلې مرکه، ۲۱ جون ۲۰۱۸م.

[33] له لويديزو امنيتي شنونکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[34] IS claims 85 casualties in 2nd suicide bombing in 24 hours on Afghan Taliban and Afghan security forces in Nangarhar (اسلامي دولت په ننګرهار کې پر افغان طالبانو او افغان امنيتي ځواکونو په ۲۴ ساعتونو کې دوهم ځان-مرګي بريد کې د ۸۵ تنو مرګ-ژوبلې دعوه وکړه) SITE Intelligence Group، ۱۷ جون ۲۰۱۸م.

تېرېدو وړ نه وي، د دواړو غاړو له پاره د اختریزې خوښۍ د لمانځنې پر ډګرونو بدلې شوې[35]. دغه لمانځنې د هیواد په شمال او نورو هغو سیمو کې نسبتاً کمې وې چې هغه غیرپښتنانه یکې اکثریت دي چې طالبانو ته د شک په سترګه ګوري. ځینې هغه ښاریان چې د ښوونې کچه یې لوړه ده، زړه نازړه وو[36]. مګر اکثریت افغانستان، او په ځانګړې توګه تر ټولو ډېرې جګړه-ځپلې سیمې، خورا زیاتې خوښۍ نیولې وې.

هغه څه چې د اوربند په لمانځنو کې د دواړو لوریو تر منځ مشترک وو، هغه دا شک وو چې پردي جګړې ته لمن وهي. ډېرو سرتېرو او طالب جنګیالیو نه چې په دې اړه پوښتنه وشوه چې دوی چې داسې په اسانه سره لاړل راغلل نو ولې یې جنګ سره کاوو، هغوی به یې پړه یا پر بهرنیانو اچوله (چې د حکومتي ځواکونو هدف ترې د طالبانو لاس-وهونکي ملاتړي، عمدتاً پاکستانیان وو) او یا پر امریکایانو (هغه لنډې نوم چې طالبان یې نه یوازې متحده ایالاتو بلکې نورو لویدیزو ځواکونو ته هم کاروي)[37].

مګر ټولو سیاستوالو د دغو لمانځنو هرکلی و نه کړ، که څه هم چې یوازې یو څو وتلیو څېرو په ډاګه خپله ناخوښي څرګنده کړه. د افغانستان د ملي امنیت پخواني رئیس امرالله صالح د نیوکه کوونکو مخکښ وو او د طالبانو له خوا یې د Tet offensive یا هغه د ویتنام د نوي کال یرغل ته ورته بریدونو تر سره کولو او پراخې کچې نفوذ په اړه خبرداری ورکړ[38]. د مخالفینو په اړخ کې ځینو طالب قوماندانانو او فکري ستو دغه غاړه غړی کېدل له زرګونو شهیدانو سره خیانت وباله او پلې ځواکونه یې په دې تورن کړل چې د اوربند په ترځ کې بې چټې مینه ناک شوي وو[39].

[35] د دغو مشاهداتو سرچینه د کړکېچ ډلې د استاځې هغه سفرونه دي چې په اختریزې رُخصتی کې یې د کابل لویدیځ او جنوب درېوو ولایتونو ته لرل. دا معلومات د لمانځنو او پخلاینې په اړه رسنیزو راپورونو سره ورته دي. د افغانستان د تحلیلګرانو شبکې له ۳۴ څخه لږ تر لږه په لاندې ۱۸ ولایتونو کې د ورته مراسمو خبر ورکړی: هلمند، کندهار، زابل، ارزګان، فراه، غزني، پکتیا، پکتیکا، لوګر، وردګ، کابل، لغمان، ننګرهار، کندز، تخار، بغلان، فاریاب او بادغیس. کېټ کلارک، The Eid ceasefire: Allowing Afghans to imagine their country at peace (اختریز اوربند: خلکو ته د دې فُرصت ورکړ چې خپل هیواد د سولې په حال تصور کړي)، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، ۱۹ جون ۲۰۱۸م.

[36] The Eid ceasefire: What did (some of the) people think? (اختریز اوربند: ځینو خلکو یې په اړه څه فکر کاوو؟)، د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه، ۲۹ جون ۲۰۱۸م.

[37] د بېلګې په توګه، د کړکېچ ډلې له یوه طالب جنګیالي او یوه افغان پوځي سرتیري چې له یوه هاموي ډوله موټر سره ولاړ وو وپوښتل چې د ملګرتیا دغې ښکاره شېبې ته په کتلو د دوی د جګړې انګېزه څه ده. طالب جنګیالي وویل: موږ نه غواړو چې له [افغان] سرتېرو سره وجنګېږو، زموږ هدف دا دی چې له کافرو [بهرنیو] ځواکونو سره وجنګېږو، مګر دغه سرتیري بیا زموږ دُښمن له موږ څخه پناه کوي. زموږ جګړه د افغانانو پر ضد نه، بلکې د بهرنیانو پر ضد ده. افغان سرتیري وویل چې: دا ټوله بهرنۍ توطئه ده چې [افغانان] له یوه بل سره جنګوي. امریکا او پاکستان دواړه د افغانانو دُښمنان دي. موږ هم په افغانستان کې بهرنیان نه غواړو، مګر د پاکستان لاس-وهنې هم نه غواړو. او موږ دواړه په دې اړه یوه خوله یو چې که افغانان سره یو ځای شي او بهرنیانو ته 'نه' ووایي، په افغانستان کې به سوله راشي. د کړکېچ ډلې مرکې، غزني ولایت، جون ۲۰۱۸م.

[38] د امرالله صالح د ټویټر حساب (@AmrullahSaleh2) څرګندونې، ۲۲-۷ جون ۲۰۱۸م. صالح په ویتنام کې د ۱۹۶۸م کال بریدونو ته اشاره کوله چې د ویتنام د نوي سپوږمیز کال په رُخصتیو کې شمالي ویتنامیانو او Viet Cong یا د جنوبي ویتنام د آزادۍ ملي جبهې د جنوبي ویتنام پر پوستو ګڼ شمېر بریدونه تر سره کړل. د هغه خبرداری له دې کبله بې اساسه ثابت شو چې طالبانو د اوربند په ترځ کې افغان ښارونو ته له خپل سوله ایز لاسرسي څخه د دغسې بریدونو د پیلولو له پاره ګټه وا نه خیسته.

[39] له طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

دغه غړونه، که څه هم چې اقلیت وو، د طالبانو د ننه د دوی د "داخلي دُښمن" (هغه اصطلاح چې افغان دولتي ځواکونو ته یې کاروي) په اړه د مختلفو اندونو ښودونکي وو. ډېرو طالبانو ته افغان سرتیري دُښمنان دي، عمدتاً له دې کبله چې دوی بهرني عسکر د دوی له برید څخه ساتي. یا په نورو ټکو کې، د بهرني موجودیت په نشتوالي کې به پخلاینه ممکنه وي. مګر له بل لوري د مخالفینو افراطي غړي له افغان دولت سره د افغان پوځ تړاو د دُښمنۍ له پاره کافي دلیل ګڼي او ځکه نو له هغوی سره راشه درشه خیانت بولي[40]. مګر په مجموع کې د دواړو لوریو اکثریت له اوربند سره ملاتړ څرګند کړ. ان عطا محمد نور، د شمالي ټلوالي پخواني قوماندان چې له طالبانو سره د جګړې اوږد تاریخ لري، او اوس د اپوزیسیون سیاستوال او ځواکمن تاجک دی، د اوربند ملاتړ وکړ او د هغه د غځوني غوښتنه یې وکړه[41].

[40] له طالب چارواکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[41] د عطا محمد نور د فېسبوک (generalatamohammadnoor@) څرګندوني، جون ۲۰۱۸م.

## IV. د طالبانو له خوا د اوربند له غځوني انکار

د اوربند د پای په رانږدې کېدو سره پر طالب مشرتابه فشار زیات شو چې ویې غځوي. د جون په ۱۶مه ولسمشر غني د حکومت اوربند وغځاوو، بیا یې وروسته مشخصه کړه چې دغه تمدید به لس ورځې وي. غني ټېپانو طالبانو ته د طبي مرستو او د هغوی بندیانو ته د کورنیو د لیدلو وړاندیز وکړ. نورو افغان مشرانو پر طالبانو د ورته غبرګون غږ وکړ او نور ډېر عادي افغانان اوږدي ارامۍ ته په هیله وو او تمه یې لرله چې له اختریز اوربند سره د ولس ملاتړ به طالب مشران وهڅوي[42]. د جنوبي ولایت هلمند د سولې لاریون کوونکي چې له خپل ولایته سلګونه کیلومتره لرې پراته کابل ته پر لارې وو، په سوونو ملاتړي به د دوی د لارې په اوږدو کې د دوی د غږ د بدرګه کولو له پاره چې تاوتریخوالي ته باید د پای ټکی کېښودل شي، راټولېدل[43]. د ملګرو ملتونو په ګډون نړیوالو لوریو د اوربند د ساتلو غږونه غبرګ کړل[44]. د افغانستان په ځینو سیمو کې ان د طالبانو لوړپوړو ساحوي قوماندانانو د راپورونو له مخې خپل مشران د اوربند غځوني ته وهڅول[45].

مګر پر دغو غوښتنو غوږونه کاڼه واچول شول. که څه هم چې یادو غوښتنو د طالبانو د لوړپوړي مشرتابه په مینځ کې بحثونه راوپارول، په مجموع کې یې مشرتابه له اوربند سره مخالفت وښود. طالب سرچینې د دې له پاره ګڼ دلایل راوړي. لومړی، دوی دا حس کړه چې د اوربند غځول به و نه شي کړی چې تحریک خپلو اصلي موخو یعني د بهرنیو ځواکونو وتلو او د یوه داسې نوي حکومت قیام ته چې د اسلامي نظام پر معیارونو پوره وي، ورسوي[46]. دا نظر یې د جګړې په ډګر کې منعکس کړ. یوه قوماندان وویل: "مونږ دا دومره کلونه هسې خوشې جګړه نه ده کړې. مونږ خپل جهاد په دې دلیل نه شو پرېښودی چې ځینې خلک یې غوښتنه لري"[47]. هغه د اوربند غځوني غوښتنې بې ځایه او د دې معادلې وبللې چې له طالبانو د یوارخیزې تېرېدنې غوښتنه کیږي پرته له دې چې حکومت یا امریکایان ورته ګامونه واخلي.

دوهم دا چې طالب مشرانو نه غوښتل چې داسې ښکاره شي چې ګوندې فشارونو ته یې غاړه ایښې. اصلاً دوی په ټینګار سره ویل چې درې-ورځنی اختریز اوربند یوارخیزه پرېکړه وه او لامل یې دیني رُخصتي وه نه د غني له خوا اعلان. د اوربند د تداوم په صورت کې به بیا دا ور ته سخت شوي وی چې د اوربند

[42] د کړکېچ ډلې مرکې، کابل، وردګ او غزني ولایتونه، جون ۲۰۱۸م.

[43] مجیب مشعل، A grass-roots Afghan peace movement grows, step by step (د افغانستان د سولې ولسي خوځښت ګام په ګام لوییږي)، نیویارک ټایمز ۱۵ جون ۲۰۱۸م.

[44] د بېلګې په توګه، یوناما د جون په ۷، ۹، ۱۴ او ۱۶ نېټو د اوربند په ملاتړ اعلامیې خپرې کړې.

[45] له قومي مشرانو سره په پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د کړکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

[46] طالبانو له یوې لسیزې ډېر وخت راهیسې "اسلامي حکومت" د خپلې موخې په توګه ټاکلی، مګر پرته له دې چې وواییي چې د افغانستان له اوسني اسلامي جمهوریت سره به یې توپیر څه وي. د دوی له لوري د یوه نوي سیاسي نظام غوښتنه د ۲۰۰۱م کال د بُن د هغه تړون د ردولو، نه د کوم ځانګړي تعریف لرونکي حکومت، په معنیٰ ده چې په پایله کې یې د شمالي ټلوالې له خوا له کابل څخه د طالبانو له اېستلو وروسته مؤقت حکومت رامینځ ته شو. برهان عثمان او اناند ګوپال، Taliban views on a future state (د راتلونکي دولت په اړه د طالبانو نظر)، New York University Center on International Cooperation، جولای ۲۰۱۶م.

[47] له طالب قوماندان سره د کړکېچ ډلې مرکه، وردګ ولایت، جون ۲۰۱۸م. یاد قومندان دا هم وویل چې "[د تمدید] دغسې غوښتنې باید اصلاً له امریکایانو وشي او ترې وغوښتل شي چې افغانستان خوشې کړي، چې بیا مونږه وکړی شو چې جګړه بیخي بنده کړو. زمونږ د جګړې دلیل اشغال دی... د زرګونو شهیدانو وینه د دې له پاره تویه شوه چې دا هیواد آزاد شي او یو سوچه اسلامي حکومت رامینځ ته شي. مونږ [د دغو اهدافو له تر لاسه کولو مخکې د جګړې په بندولو سره] د هغوی له داعیې سره خیانت نه شو کولی".

غځونه هماغسي یوا ړخیز اقدام وښيي. ځینو له دې وېره لرله چي امریکایي او افغان حکومتونه به د طالبانو له خوا د اوربند غځوني پرېکړه د متحده ایالاتو د پراخو شویو پوځي عملیاتو د پایلي په توگه تعبیر کړي. د تحریک مشرانو غوښتل چي د دغسي انگېرني مخه ونیسي. دا چي پاکستاني چاراوکو د طالبانو د اوربند د امتیاز ادعا وکړه، دې کار نور هم له تمدید څخه زړه-توري کړل ځکه چي طالب مشرانو په پرله پسي توگه د دې هڅه وکړه چي هره هغه ادعا ناسمه ثابته کړي چي گواکي د دوی واک د اسلام آباد په لاس کي دی[48].

درېیم دلیل د طالبانو د یووالي خبره وه. د درې ورځني اوربند په خلاف به د اوربند غځوني طالب مشران اړایستي وی چي له خپلو غړو سره لاپراخي مشورې وکړي، په ځانگړې توگه له ساحوي قومندانانو او سرسختو فکري ستو سره. دوی اندېښمن وو چي له مناسبې مشورې پرته دغسي پرېکړه کول د گټي پر ځای تاوان کولی شي. په دې اړه داخلي بحثونه وخت-نیوونکي وو، او ان که مخالفتونه پای هوار شوي هم وی، د دې خطر وو چي د دوی د انسجام هغه انځور ته زیان واوړي چي د اوربند په ترڅ کي یې ښودلی وو. هو، ځیني طالب قومندانانو د تمدید غوښتنه کړې وه او هغه لېوالتیا په کومې چي ډېرو جنگیالیو د اوربند هرکلی وکړ، ښیي چي کېدی شي جنگیالیو هم اوربند خوښ کړی وی. نو دې ته په کتلو سره کېدی شوی چي د اوربند غځوني پر ضد پرېکړې به له ځان سره د مخالفت خطر هم درلود. مگر، دا چي منطقي ده او که نه ده، ښکاري چي طالب مشرانو به فکر کړی وي چي د دې احتمال ډېر کم دی چي بېرته جگړې ته گرځېدل دې د دوی په صف کي شخړه راوپاروي[49].

څلورم، بهر-مېشتو طالب مشرانو به کېدی شي سوله-پال ولسي احساسات په بشپړه توگه نه وي درک کړي، ځکه چي دوی هغه څه په خپلو سترگو و نه لیدل چي په عمل کي تېرېدل.

د طالبانو د دغې پرېکړې وروستی دلیل لږ کمزوری وو او هغه دا چي د اوربند غځوني به ممکن په اکتوبر کي تر سره کېدونکو راتلونکو ولسي جرگې او ولسوالیو شوراگانو ټاکنو نوماندانو ته د دې فُرصت ورکړی وی چي د طالبانو تر واک لاندې سیمو کي خپلو موکلینو سره وگوري. دغسي فُرصت به بیا د تحریک له هفو اهدافو سره مخالف وی چي غواړي سرنی ټاکني گډې وډې کړي او یو سیاسي کړکېچ رامینځ ته کړي[50].

48 له طالب چاراواکو سره د کړکېچ ډلي مرکي، جون ۲۰۱۸م.

49 له طالب چاراواکو سره د کړکېچ ډلي مرکي، جون ۲۰۱۸م.

50 له طالب چاراواکو سره د کړکېچ ډلي مرکي، جون ۲۰۱۸م.

## ٧. د اوربند پیغامونه

دغه درې ورځني اوربند د سولې د راتلونکو بالقوه هڅو له پاره درسونه لرل. ښايي تر ټولو بنسټيز درس پکې دا وو چې دواړه مشرتابه پر خپلو اړوندو ټيټ-پوړو منسوبينو واک لري، او په دې توګه (تر ډېره بريده) د دواړو غاړو د داخلي انسجام په اړه کېدونکې پوښتنې رفع کوي[51].

دا چې طالب مشران وتوانېدل چې خپله غټه سياسي پرېکړه په ټول تحريک کې نافذه کړي، دا په ځانګړې توګه د پام وړ خبره ده. البته د اختر درې-ورځنی اوربند د سولې له دايمي تړون سره خورا توپير لري. دا چې طالبان به وتوانيږي او که نه چې د يوې داسې جوړې په صورت کې هم دوی خپل صلاحيت همدغسې نافذ کړي شي چې په هغې کې د افغان ټولنې له نورو برخو سره جوړجاړی شامل وي، دا معلومه نه ده. په واقعيت کې داسې ښکاري چې د دوی له خوا د اوربند د نه غځولو د انتخاب غوره کولو انګېزه لږ تر لږه د دوی دا انديښنه وه چې دا به د دوی د تحريک د ننه اختلاف بربنډ کړي. مګر سره له دې هم، ان هغه چارواکي چې له مودو راهيسې يې د يوه واحد طالب تحريک نظر رداوو، اوس مني چې طالب مشران پر خپلو کسانو ټينګ واک لري[52]. په شمال کې د حکومت ځينې داخلي مخالفې ډلې هم ورته پايلې ته رسيدلي[53]. ولسمشر غني په خپله د نيويارک ټايمز له خوا خپرې شوې تازه ليکنې کې هم ضمناً همدومره ومنله[54].

لکه چې يادونه ترې وشوه، د جګړې د ډېر قومندانان د خپل مشرتابه له لورې دغسې حکم ته چمتو نه وو، مګر بې درنګه يې ومانه. د پېښو دغه وضعيت هم د دوی د مشرتابه واک او د طالبانو د رسمي مجراګانو اغېز څرګند کړ، که هغه د ويناد له خوا د تحريک پر اصلي ويبسايټ خپرې شوې اعلاميې وي او که د وټس-اپ يا نورو پيغام وړونکو برنامو له لارې خپاره شوي معلومات. ان هغو غړو هم د خپلو مشرانو د دغې پرېکړې درناوی وکړ چې د اوربند تر شا منطق باندې قانع نه وو[55]. طبعاً د دوی په مينځ کې د سوق او اداري په برخې کې ځينې کوچنی ګډوډی پېښې شوې، او دغسې موارد په حکومت-پلوو ځواکونو کې هم وو. مګر د قومندانانو او پليو سرتېرو مجموعي منښته ښيي چې د طالبانو مشرتابه به د سولې په راتلونکې بهير کې يو باوري شريکبانی وي.

---

[51] د حکومت-پلوو ځواکونو د انسجام په اړه بحث له پاره وګورئ: د کړکېچ اداري ۲۶۸ ګڼه آسيا راپور، The Future of the Afghan Local Police (د افغان محلي پوليسو راتلونکی)، ۴ جون ۲۰۱۸م. د طالبانو په اړه وګورئ: Antonio Giustozzi، "Afghanistan: Taliban's organization and structure" (افغانستان: د طالبانو تنظيم او جوړښت)، Landinfo، ۲۳ اګست ۲۰۱۷م. ګيوستوزي وايي: "سره له دې چې هيڅکله هم مرکزي نه وو، د طالبانو تنظيمي جوړښت له ۲۰۰۷م راهيسې ورځ تر بلې وېشل شوی". مګر نورې تازنی څېړنی ښيي چې د طالبانو داخلي نظام د بل هر وخت په پرتله ډېر منسجم دی. په دې اړه وګورئ: Ashley Jackson، "Life under the Taliban shadow government" (ژوند د طالبانو د موازي حکومت په سيوري کې)، Overseas Development Institute، جون ۲۰۱۸م.

[52] له لويديز ديپلومات سره د کړکېچ ډلې مرکه چې د لوړپوړو حکومتي چارواکو په حواله يې خبرې کولې، کابل، جون ۲۰۱۸م.

[53] د يوه غټ سياسي ګوند، جنبش ملي، يوه لوړپوړي سلاکار وويل چې "د اوربند په اړه تر ټولو مهم ټکی دا دی چې طالبان په کوچنيو ډلو نه دي وېشل شوي، بلکې په ټول هيواد کې د مراتبو يوه غښتلې سلسله لري. له جنبش ملي چارواکي سره د کړکېچ ډلې مرکه، ۵ جولای ۲۰۱۸م.

[54] اشرف غني: "زه له طالبانو سره هر چېرته خبرو ته تيار يم". نيويارک ټايمز، ۲۷ جون ۲۰۱۸م.

[55] له طالب چارواکو سره د کړکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م.

که دغه اوربند د جګړې د ملاتړو په اړه ډېر څه ښکاره کړل، د هیواد په ښارونو او کلیو کې جشني غونډو د سولې د داخلي پلویانو اندازه هم څرګنده کړه. د جګړې له پای سره مینه نه یوازې د هغو افغانانو په مینځ کې څرګنده وه چې په جګړو ځپلو کلیوالي سیمو او هغو ښارونو او ښارګوټو کې اوسېږي چې د طالبانو د بریدونو له خوا په نښه شوي وو، بلکې په خپله د طالبانو او وسله وال پوځ په ساحوي منسوبینو کې هم ښکاره وه، داسې چې د لومړیو کرښو جنګیالیو هم د اوربند هاغسې په مینه هرکلی وکړ لکه ولسي خلکو چې وکړ.

د اوربند ولسي ملاتړ د دوه اړخیز باور او زغم چاپېریال رامینځ ته کړ، هغه چې د دواړو لوریو جنګیالي یې د دې جوګه کړل چې اکثراً وسله په لاس یو ځای خوښي وکړي. په دې کې داسې صحنې هم وې چې تاوتریخوالي ته په شدیدې لېوالتیا یا په ژورې خپلمینځي دُښمنۍ مشهورې څېرې له یوه بل سره دوستانه روغبړ وکړي[56]. په هر صورت، دواړو غاړو دومره زغم او درایت وښود چې د خپلو اړوندو مشرانو له هغو لارښوونو هاخوا یو څه بلل کېدی شي چې یوه بل ته یې د دې اجازه ورکړې وه چې د یوه بل د واک سیمو ته له خپلو وسلو سره ننوځي. د خوښۍ جوش به ښایي په دې کې مرسته کړې وي چې طالبان له دې وګرځوي چې له اوربند نه په ناوړې ګټې اخیستنې په ښارګوټو او ښارونو کې بریدونه تر سره کړي. په ورته توګه به ښايي دغو خوښیو افغان پوځي مشران هم له دې منع کړي وي چې پر هغو کسانو برید وکړي او یا یې ونیسي چې ښارونو ته له ننوتلو یا د جګړې له کرښې له تېرېدو مخکې یې خپلې وسلې په مؤقتي توګه تسلیم کړې وې. او کېدی شي دی به هغه طالب-ضد مشران چې طالبان نه پخلا کیدونکې ترهګر ګڼي هم دې ته هڅولي وي چې پر اوربند نیوکه و نه کړي.

دوهم درس دا وو چې پاکستان-مېشتو طالبانو ته، داسې ښکاري، چې پر ځمکې چټکو بدلیدونکو حالاتو تحلیل ستونزمن وو. په نتیجه کې، د دې خطر وو چې دوی نه یوازې د ولسي احساساتو بلکې د خپلو عادي منسوبینو د احساساتو پر خلاف سخت دریځ غوره کړ. دې ته په پام سره، لا هم شونې نه ښکاري چې دغه تحریک به وویشل شي. ځینو حکومتي چارواکو دا نظر ورکړی چې له طالب مشرتابه سره د خبرو د لارې نیولو پر ځای باید هغه پخوانۍ، ناکامې، هڅې احیا کړل شي چې یوستوې طالب وسله وال یا ساحوي قوماندانان له ځان سره یو ځای کړي[57]. طبعاً، طالب جنګیالیو چې له خپلو مخالفینو سره خبرې وکړې، انډیوال-طبیعته ښکارېدل. ډېر یې له جګړې ستړي شوي. ځایي اوربندونه یا د وسله والو د قومندانانو او ځایي چارواکو تر مینځ غیررسمي تړونونه هم کېدی شي ممکن وي؛ که چېرې دا ډول کارونه دغه انساني درد ارامولی شي، باید حمایه کړل شي.

مګر دا باور لرل به تېروتنه وي چې د دغه ډول تړونونو زیاتېدنه به طالب مشران خبرو اترو ته اړ کړي یا به ان بیخي د دوی د راښکېلونې اړتیا ورکه کړي. د کرکېچ ډلې څېړنې ښيي چې د خپلو مشرانو له خوا

---

[56] د بېلګې په توګه، حکومت-پلوی قومندان عزیزالله کاروان د راپورونو پر اساس له خپل سرسخت سیال، طالب قومندان ملا مسافر سره په پکتیکا ولایت کې چای څښلی. د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م. د دغې دوستانه مخامخېدنې کچه هغه وخت په ډاګه شوه چې د اوربند له ختمېدو وروسته کاروان د وسله والو له خوا ووژل شو. " Special Police commander assassinated in Kabul" (د ځانګړو پولیسو قومندان په کابل کې ووژل شو)، طلوع نیوز، ۲۸ جون ۲۰۱۸م.

[57] له افغان چارواکو سره د کرکېچ ډلې مرکې، جون ۲۰۱۸م. د افغانستان د سولې او بیاپیوستون پروګرام (Afghanistan Peace and Reintegration Program) له طالبانو سره د پخلاینې تازنی مهمه پړاویزه هڅه وه. په وروستۍ ارزونې کې یې راغلي وو: "د افغانستان د سولې او بیاپیوستون پروګرام په طراحۍ کې موجوده غټه ستونزه دا شخړه ایزه فرضیه وه چې د سولې د تړون په نه شتون کې به د بیاپیوستون پروګرام ممکن وي. Seamus Cleary او نور، "Afghanistan Peace and Reintegration Programme: Final evaluation report" (د افغانستان د سولې او بیاپیوستون پروګرام د وروستۍ ارزونې راپور) ، جولای ۲۰۱۶م.

د شنه څراغ له تر لاسه کولو پرته به، چې هغه به بیا د یوه پراخ هواري په سیاق کې وي، د طالبانو اکثریت پلي جنګیالي او قومندانان، ان هغه چې د اوربند د غځوني هیله یې لرله، جګړه پرې نه ږدي[58]. دا واقعیت چې د طالبانو بریدونه د جون په ۱۷مه، دقیقاً په همامغه وخت چې د مشرتابه له خوا یې د اوربند د پای له پاره ټاکلی شوی وو، بېرته پیل شول، دا د دوی هغه وړتیا ښیي چې د هیواد په اکثریت برخو کې خپلو ټولیو ته پر ځای کېدونکي اوامر صادر کړي[59].

دغه اوربند د دې پخلی هم وکړ چې جګړه اساساً فکري نه ده. د دواړو لوریو مشران، او په حقیقت کې د ټولنې وګړي، په دې اړه خورا مختلف نظرونه لري چې افغانستان باید څنګه اداره کړی شي. مګر دغو لمانځنو وښوده چې په بالقوه توګه ممکنه ده چې جنګیالي یوه بل ته د خپلو افغانانو او هغو مسلمانانو په توګه درناوی ولري چې یو خپلواک او نه وېشل کېدونکی هیواد غواړي.

